طالبان

او

پښتو ادب

ليکوال

زکريا ملاتړ

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د۱۳۶۵ش

خطاط : نورالحبيب نثار

دچاپ شمېر : ۵۰۰ ټوکه

بيه : ۸۰ روپۍ

بوخت (
		
		# ټړون

د هغه شهیدانو په نوم چې د ۱۳۵۲ ش

کال څخه وروسته د وحشي روسانو د سیسو

ښکار او تری تم شوي دي .

« ز - ملاتړ »

یادونه

PROPERTY OF ACKU 8069

طالبان او د پښتو ادب جونګ او مجموعه تقریباً ما لس کاله وړاندې لیکلې او ټوله کړې ده خو د ځینو کړاوونو او مشکلاتو په اساس یې د چاپ کار ځنډېدلی و.

زما په اند او فکر کې د دغه مجموعه لا بشپړه نه ده، ځکه داسې طالبان به وي چې زمونږ څخه پاتې شوي وي یا یې پېژندنه شوې وي د شعر بېلګه یې نه وي راغلې. او یا یې د شعر بېلګه راغلې وي پوره پېژندنه یې نه وي شوې. نو د پښتو ژبې د ټولو ادیبانو او ځېړونکو او په خاصه توګه د طالبانو څخه هیله کوم چې ما د خپلو نیمګړتیاوو او نورو کمیو زیاتي په برخه کې معذور وګڼي.

«مؤلف»

فهرست

نمبر شمار	مضمون	صفحہ
۱	سریزه	الف
۲	احمدین طالب	۱
۳	محمدحسین طالب	۷
۴	طالب جان	۱۲
۵	قسیم الله طالب	۱۶
۶	عبدالحنان طالب	۲۵
۷	طالب	۲۷
۸	لوګری طالب	۲۹
۹	ملا رستم طالب	۳۳
۱۰	محمدرسول طالب	۳۹
۱۱	وزیر طالب	۴۲
۱۲	طالب الجامعی	۴۵
۱۳	شمس الدین طالب	۴۸
۱۴	رشید طالب	۴۹
۱۵	جمعه ګل طالب	۵۵
۱۶	طالب ګل	۵۷
۱۷	طالب جان	۶۲
۱۸	نور طالب	۶۳

ګڼه	مضمون	مخ
۱۹	عبدالرؤف طالب	۶۸
۲۰	ولي محمد طالب	۶۹
۲۱	عبدالقهار طالب	۷۱
۲۲	طالب یوسفزی	۷۳
۲۳	صاحب جان تور طالب	۷۵
۲۴	طالب رحیمي	۷۷
۲۵	طالب محمد اکبر	۷۸
۲۶	ملا قادر طالب	۷۹
۲۷	طالب جان	۸۱
۲۸	دلاور طالب عمرخیل	۸۳
۲۹	د ټنګ ټکور طالبان	۸۸

بسم الله الرحمن الرحیم

سریزه

د طالبانو او پښتو ادب د مجموعې د راټولولو او لیکلو فکر په لومړي ځل ما سره هغه وخت پیدا شو چې زه د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي د پښتو څانګې د څلورم ټولګي محصل وم .

د پوهنځي څخه د وتلو وروسته هر محصل د خپل تحصیل په پای کې یوه علمي رساله لیکله .

په پښتو څانګې کې زیاتره داسې دود وچې هر محصل به د تحصیلاتو په پای کې د خپلې خپلې سیمې د یو شاعر یا څو شاعرانو پېژندنه او د اشعارو مجموعه راټوله . په دې اساس

ما هم د خپلې سیمې د یو شاعر چې
قسیم‌الله طالب نومید او پنځوس کاله
وړاندې وفات شوی وخو نه یې د اشعارو کومه
لیکلې مجموعه درلوده او نه یې په تذکرو
مجلو او ورځپانو کې یادونه راغلې وه، ولې
څه ناڅه اشعار یې د هغه ځای د محلي سندرغاړو
په یاد کې پاتې وو . د نوموړي طالب پوره
پېژندنه او څېړنه په دې مجموعه کې د هغه
د اشعارو د بېلګو سره راغلې ده .
که په دې کتاب کې د یوې خوا د طالب په
نوم د پښتو شاعرانو پېژندنه او د شعرونو
بېلګې ترتیب او ټولې شوې دي نو د بلې خوا
په پښتو ژبه کې دا لومړنۍ تحقیقي مجموعه
ده چې د یو نوم یا تخلص لاندې د ګڼو
شاعرانو پېژندنه او څېړنه په جلا او ځانګړې
توګه یکې شوې ده او په هدې ترتیب په پښتو
ادب کې د یو نوم لاندې د نورو شاعرانو
د مجموعو راټولولو له پاره لاره جوړه شوه.

د طالب د کلمې څېړنه

د طالب کلمه په پښتو ژبه کې دود او عامه

ده خو اصلاً عربي کلیمه ده چې د خوښتونکې او پلټونکي معنا لري خو دلته د طالب کلیمه د محصل په معنا ده . څرنګه چې د پوهنتون محصلینو ته محصل ویل کیږي ، همدغه شان د جوماتونو او مدرسو شاګردانو ته طالبان ویل کیږي ، د طالب العلم کلیمه اوس هم په پښتو ژبه کې رواج لري .

پخوا چې د ښوونځۍ او روزنې پروګرامونه په اوسنۍ بڼه نه وو ، زده کړه او تعلیم یوازې په دیني مدرسو او جوماتونو کې سرته رسیده او د لیک - لوست د زده کولو یوا ځینی لار همدا وه . طالبان به د علم پسې لیرې - لیرې ملکونو ته تلل او د بیرته راستنیدو وخت کې به یې د پیرې علمي ذخیرې او معلومات ، مختلف ډول کتابونه او دیوانونه د ځانه سره راوړل .

د پښتو ژبې د کلاسیکي دورې اشعار د ملا او طالب ، پیر او مرید په ذریعه خپاره شوي او ساتل شوي دي . تر کومه ځایه چې موږ ته معلومه ده د پښتو ژبې د اشعارو لومړی مرتب دیوان هم د ملا ارزاني دی ، ملا ارزاني د پیر روښان تینګ ملګری او ملاتړ و .

ac

طالبان په کال کې یوه د سیر او سیاحت دوره لري چې په میلو او اتنو سره یې تېروي او د صوبت په نوم د ځانونو له پاره خیر خیرات او چندې ټولوي . پښتانه طالبانو ته د قدر په سترګه ګوري ، موږ د خپلې خبرې د ثبوت او پخلي له پاره د پښتو په ولسي ادب او لنډیو کې د طالبانو د ستاینې او ویاړنې په هکله یو څو لنډۍ د نمونې په توګه دلته رالیکو :

لنډۍ

طالبان راغله ډولې ډولې
زما د زړه طالب را نغی وبه مرمه

طالبان مه کړې مین خدایه !
یو غم د عشق وي بل د علم کړي غمونه

طالبان واړه ملایان کړې
عبث یې مه کړې د ټول عمر زحمتونه

طالبان واړه ملایان شوله
هسې زما په کتاب پرې ټول ګردونه

طالبان وختل وطن ته
زه د جانان سترګو رنځور کړم پاتې شومه
طالب په قبر کې ناري کړي
قلم مې کوږ ګوتې مې تورې خاورې خوړینه
طالبه ! بس که ژړا مه کړه
څوک خو دې نه شته چې دې اوښکې پاکې کړینه
طالبه ! خدایږو که ملا شې
په کتاب پروت یې یا دوې شینکي خالونه
طالبه ! پوند شې کتاب کټ کړه
ستا د کتاب تر حاشیو ډېر زما خالونه
طالبه ! زېرې مې دربان دې
د جوماټ خواته سیلانۍ راغلي دینه

طالبان په لنډیو کې ځکه زیات ستایل شوي چې د علم پسې به ډېر کلونه ورک او جلا وطن وو ، پښتنو انجونو به د دوی دغه اوږد سفر د لنډیو په بڼه کې انځورولو. او کله ـ کله به د دوی په منځ کې رښتیانی مینې داسې شکل وموند لکه د طالب جان او ـ ګلبشرې فلکلوریک داستان .

طالبان د لنډیو څخه علاوه په سروکو

اوبکټیو کې هم ستایل شوي دي.

لکه:

توره طالبه! ناجوړه یمه
جوړه مې نه کړې یار په ګل ایښتلې یمه
ناجوړه یمه.

د پورتني شعر په مخ د طالبانو باطني احساسات د یو لړ خاصو شرایطو لاندې د شعر په رنګینو څپو اوښتي او بدل شوي دي. طالبان هیڅکله چاته خپل نوم نه ښيي او نه په خپلو منځو کې یو بل ته نوم اخلي، بلکې د ملا او طالب په نوم سره شهرت مومي. کله چې د دوی څخه کوم یو شاعر شي نو د طالب تخلص غوره کوي.

مونږ په دې کتاب کې د دغه شان طالبانو د ژوند په حالاتو او د اشعارو په بېلګو باندې خپله خبرنه د توان په اندازه کړې او وړاندې کړې ده.

« زکریا ملاتړ »

۱۳۶۵-۴-۲۰

۱- احمدین طالب

احمدین د روانې پېړۍ د لومړۍ برخې یو بنه عالم او پوه شاعر دی ، په شعر کې یې طالب تخلص کولو . د ده د رباعیاتو دیوان د مردان د یو مشهور سندرغاړي بناغلي صحبت خان د مرغوز او سید ونکي په اهتمام چاپ شوی دی .

ده د دیوان په سریزه کې خپل استاد احمدین داسې معرفي کړی دی :

„ احمدین ملاصاحب عالم شاعر، په ختټه فریدخېل د اشنغر د اتمانزو و ، مگر دی به اکثره وخت په سوات کې و . مجرد و ، بال بچ یې نه و ، وړېسې سوات ته لاړم، شاگرد یې شوم، بیا مې د ځان سره راوست ، تقریباً شل کاله په مردان کې له ما سره و . بیا پس له هغې زما په کور کې وفات شو .

مزار یې اوس په مردان کې دی. د استاد احمدین د خپل لاس تحریر شوي کتابونه ما سره موجود دي، اوس مې د هغه د شعر له دفترونه د رباعیاتو یو جلد کتاب چاپ کړ او د چاربیتو، غزلیاتو، نیمکیو دوهم جلد کتاب به یې هم چاپ کړم.»

احمدین په خپلو اشعارو کې د صحبت د شل کلن خدمت یادونه هم کړې ده:

یا زما د خولې دعا ده ورته ډېره
یا ورکړې رب په خپله شرافت دی
یا ترې زه «احمدین» ځکه ډېر رضا یم
چې شل کاله مې «صحبت» کړې خدمت دی

د احمدین په اشعارو کې یو خاص خوند او سوز پروت دی او په شعرونو کې یې د عشق او مینې هنګامه ډېره توده ده. په صداقت، رښتیا ویلو، عشق او تصوف کې د رحمان بابا پیرو دی او په نازکه خیالۍ کې د حمید بابا د لارې منکری دی، مګر په عام ډول سره د رحمان بابا د سبک پیرو معلومیږي. د ده په اشعارو کې که څه هم روانې او ساده ګي زیاته ده خو کله د ملاییٔ او طالبیٔ په جوش کې ډېر مشکل عربي لغات استعمالوي او خپل شعر د عامو خلکو د پوهې له چوکاټ نه باسي ـ لکه:

نصیبه د نصیب ستا په نهیه نه شي
په سله د سلم کینه په بال شي

د احمدین اشعار او افکار :

د احمدین طالب په اشعارو کې اخلاقي او اجتماعي رنګ زیات لیدل کیږي، خصوصاً د بې وفائۍ او تړۍ غندنه کوي .

هغه یار چې بې فایدې شي مه یې وینه
که سپین مخ یې پالودې شي مه یې وینه

چې په زړه یې محبت درسره نه وي
که خپل سود له درنیږدې شي مه یې وینه

احمدین د ژوندانه د سیاست او چال چلند په هکله د اعتدال او برابرۍ لار خوښه کړې ده .

داسې خوږ لکه د شهدو شکر مه شه
تریخ په مثل د حنظل د ثمر مه شه

میانه د تریخ او خوږ په منځ کې اوسه
په بد خوی په بد کارۍ مشهور مه شه

احمدین د خولې په تشه راشه درشه هم نه خوشالیږي او په اجتماعي افکارو کې یې د پښتو او پښتونولی رنګ زیات ښکاریږي .

راضي نه یم تش د خولې په راشه ـ درشه
خو چې موږ په وصال لاړ نه شم له فرشه

په اشعارو کې بدیعي صنایع او د پښتو متلونو تضمین هم لیدل کیږي .

چې اوښان لري ساته دروازه د ننګه
په وړه دروازه اوښ به تېر شي څنګه

د احمدین په اشعارو کې د مینې او محبت ، عشق او سوز خوږ او خیالونه هم ډېر دي ، وګورئ چې د یار د مخ شمع ته د زړه په تاج کې ځای ورکوي .

که د مخ شمع دې راوړم د زړه تاج له
خو دا نه وایې چې راشه بوسه واخله

لوټمار بېلتون د وصال په قهرمان داسې ډاروي .

بېلتانه مې خزانه د صبر لوټ کړه
قهرمان د وصال نه راځې ګټواښ له

په اخر کې دوه غزلې د احمدين طالب د اشعارو څخه د نمونې په ډول رانقلوم .

غزل

سپين رخسار که دې نن وي سبا به نه وي
نوبهار که دې نن وي سبا به نه وي

د بلبلو به دلانو ازار مه اخله
دا گلزار که دې نن وي سبا به نه وي

پريذات دې په جلوه د ستر گو سوځي
جوش خمار که دې نن وي سبا به نه وي

د لالونو د مرجانو سودا گره !
خريدار که دې نن وي سبا به نه وي

ټول خوبان دې د جمال په رڼا زيستکا
سير سينگار که دې نن وي سبا به نه وي

احمدينه ! هغه يو اشنا دې بس دی
دوهم يار که دې نن وي سبا به نه وي

غزل

ما وې و گوره چې زړه مې قلم نه دی
دې وې صبر کړه لايق د ملهم نه دی

سوی ستا په عشق کې ژاړم اوښکې وینې!
دې وې بې ژړا چا موندی کلغم نه‌دی

ما وې کله به په ما مهر و کرم کړې
دې وې قطع دې لا خیال د کرم نه‌دی

ما وې اور مې ستا د عشق په زړه بلیږي
دې وې رنګ دې د بوراسره سم نه‌دی

ما وې بیا مې ستا د لوړې قسم وخوړ
دې وې هیڅ باور مې ستا په قسم نه‌دی

ما وې نوم مې احمدین طالب سیاح دی
دې وې کړه دې لا سیال د ارم نه‌دی

د احمدین طالب د پېژند ګلوۍ اخځونه په لاندې ډول دي :

۱- پښتني سندرې دوهمه برخه، ساپی محمد حسن، احمدین طالب ۱۳۳۵ ش کال پښتو ټولنه ۱۷۸ مخ .

۲- پښتانه شعراء دوهم ټوک پوهاند رښتین احمدین طالب ۱۳۲۱ ش پوهنې مطبعه ۶۷۸ـ ۶۸۰ مخونه .

۳- عرفان مجله ۱۳۵۴ ش کال (اسد / عقرب) پوهاند رښتین ۲۴ـ ۲۹ مخونه .

۴- پښتو اریانا دایرة المعارف دوهم جلد ۵۶۲ مخ .

۵- " " " " دریم جلد ۵۸۸ مخ .

۲- محمّد حسین طالب

د ښاغلي محمد حسین د پلار نوم غلام حسین دی، د پښتو او دري ژبې پوخ شاعر او لیکوال دی، په ۱۲۸۵ ش کال د کندهار د ډنډ د کوندګان په کلي کې زیږیدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې د کندهار په لومړنۍ ښوونځي کې سرته رسولې او نور تحصیل یې د کابل د حکامو په ښوونځي کې کړی دی، د وخت مروجه علوم یې په خصوصي ټوګه لوستي، د ډېر وخت را په دې خوا په پښتو او دري ژبه شعرونه وایي او په دواړو ژبو کې د اشعارو مجموعې لري. پردې برسېره په پښتو او دري ژبو کې یو زبردست نثار دی، د واصل کندهاري دېوان هم ده په زیار چاپ شوی دی(۱)

(۱) او سني لیکوال درېم ټوک، محمد حسین طالب ۱۳۴۶ ش ۱۴۸۶ - ۱۴۹۰ مخونه.

وروسته ماموریت یې په داخله وزارت کې د پښتو امریت و، په ۱۳۴۸ ش کال تقاعد ورکړه شو .

په ۱۳۴۳ ش د کندهار د ښار د حوزې نه د اولسي جرګې د وکالت له پاره کاندید شو او بیا وروسته یې په خپله خوښه یوه دارالوکاله جوړه کړه .

د اشعارو مجموعه یې په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو د چاپ شویو اشارو د سیمینار په ویاړ د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسې له خوا د ښاغلي عبدالجلیل په اهتمام په ۴۹ مخونو کې چاپ شوې ده .

مګر په دغه کوچنۍ رساله کې د شاعر د پېژند ګلوۍ په هکله یوه کرښه هم نه ده توزه شوې .

اوس به د ګرانو لوستونکو له پاره د ده د اشعارو د مجموعې څخه یو شعر چې د رحمان بابا د شعر په پیروۍ یې ویلی دی د نمونې په ډول دلته رانقل کړم .

بنـه عمل د لارې مـل (۲)

نه محتاج د تاج و ګنج نه د سرير يم
مستغني هم د پاچا هم د امــير يم
چې ايرې کيمیا کوي هغه اکسـير يم

---

(۲) د طالب محمد حسین د اشعارو مجموعه ۱۴ــ ۱۵ مخونه .

که مي څوک په اميرۍ شمېري امير يم
که مي څوک په فقيرۍ شمېري فقير يم

چې لمبې يې پورته کيږي له ورو
په بل اور دي څه حاجت د سمندرو
زه خو نه غواړم ژوندون د بې هنرو
صدقې لره يې غواړم د دلبرو
هسې نه چې په دنيا پسې زهير يم

که نظر کړې کائنات او دې دنيا ته
سلسله د تعاون دربښيي وتا ته
تعاون دا دی چې وګوره وما ته
هم پند اخلم هم پند وايم وهرچا ته
زه د ځينو يم مريد د ځينو پير يم

عاشقانو ته خپل عشق پير کامل دی
عشق چې نه وي د تش علم څه حاصل دی
تا ګټلی نه لري تسبيح که نه غافل دی
د خرقې خدمت هرګوره ډېر مشکل دی
که نه زه ودغه کار وته په ځير يم

د پتنګ د سري لمبې نه څه پروا ده
زه عاشق یم د عشق درد ما ته دوا ده
لکه ګل په پریشانۍ کې مې خندا ده
لکه شمع په خندا کې مې ژړا ده
له عالمه پټ پنهان د زړه په ویر یم

د انسان زړه آیینه عشق یې صیقل دی
ښه عمل د لارې مل ضرب المثل دی
عشق مې خوی، عشق مې مسلک، عشق مې عمل دی
په هجران کې خیال د یار راسره مل دی
په زندان کې د یوسف(ع) سره اسیر یم

مجنون غوږ څوي که ځان د عشق و اور ته
نه ګوري د عاقلانو و پېغور ته
زه چې ګورم د دنیا و شور ماشور ته
نه شته بله ازادي تر دغه پور ته
چې بندي د یار د زلفو په ځنځیر یم

ربښتیا دا ده که زاره دي که زلمیان دي
هزاره طالب پښتو ته تول حیران دي
عاشقان په خاکسارۍ کې پاچهان دي

خوشحال خان او دولت خان مې غلامان دي
نه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

یو زه نه یم د غنم واړه طالبان دي

۴- طالب جان

نوموړی شاعر موږ د یوې چاربیتې په واسطه پېژنو، یعنې د چاربیتې د کسر د بند څخه موږ د ده ځای معلوموﻻی شو. د چاربیتې په اخر کې د «سنگینه» نوم راغلی دی، سنگینه د ننگرهار د چپرهار د رود په بر سر کې د یوه وړوکي کلي نوم دی. طالب جان یو ملي شاعر او په چاربیتو کې د قوي لاس خاوند دی، نوموړی د ۱۴۰۰ هـ ق په شاوخوا کې تېر شوی. په لاندنۍ چاربیته کې د ټیک او د پېزوان سوال ځواب په ښه ښو الفاظو کې کوي.

چاربیته

جگړه شوه په غ باندې د ټیک او د پېزوان

ټیک وویل پېزوان ته ستا ښایست له ما نه کم دی

منکر له قسم دی

ټیك وویل پېزوان ته　　ته ګوره زما شان ته
جلۍ چې شي بالغه اول د ول په ما کاندي
جګړه شوه په مخ باندې
جلۍ چې خان سمبال کا　　وربل په وروځو جال کا
د پاسه یې ماسور کاندي په مثل د سلطان
د ټیك او د پېزوان
اوربل یې لري تخت　　ویښ شوې چې دې بخت
پېزوانه یې فایده یې لا ڼې وهې دا دې لوی غم دی
منکر لره قسم دی

پېزوان وویل ټیکه نه یم　　د پېره په بڼه دفتر یم
ته پروت یې په ځنګله کې نه شرمېږې چې لا خاندې
جګړه شوه په مخ باندې
ځنګل شو ستا په بڅه　　دا ستا د کمي تخته
بندي به یې تر څو سیل دې ونه کړو د میدان
د ټیك او د پېزوان
بل مې شولې د ولېږې　　چیچې دې سپېږې ورګې
نه پروت یم په حرم کې بنه خوراك مقام مې فم دی
منکر لره قسم دی

ټيک وہل مه وايه سپکي   يو تن يې څه به و کې
چارګل مې کېنولې په بنډار کې درته وړاندې
جګړه شوه په مخ باندې
چاپېر ترې خنجر کي دي   چړې او توپکي دي
که نر يې رابنکاره شه چې حيران دې کړم په ځان
د ټيک او د پېړزوان
ننګې بنه په چړچه کې   پرته ده په مورچه کې
دباب شباب کوي د جنګ تد بير ورسره سم دی
منکر لره قسم دی

جنګ جوړ شو صف په صف   لښکر په هر طرف
ټيک شو په جنګ کې لر څکه حملې يې کړې د وړاندې
جګړه شوه په مخ باندې
صفت د هر کالي دی   اشنا زما خيالي دی
چور چور په زړه رنځور مينې د يار کړو طالب جان
د ټيک او د پېلزوان
مسکن مې سنګينه شوه   غلبېل زما سينه شوه
د يار مې اندېښنه شوه، زړه زما پسې قلم دی
منکر لره قسم دی

د طالب جان د پېښند کلوئ اخځونه په لاندې ډول دي :

۱ـ پښتانه شعراء دوهم ټوک، پوهاند رښتین، طالب جان ۱۳۲۱ ش پوهنې مطبعه (۶۱۲ – ۶۱۵) مخونه .

۲ـ پښتنې سندرې دوهمه برخه ـ پښتوټولنه ۱۳۳۵ ش کال (۳۷ – ۳۹) مخونه .

۳ـ پښتو اریانا دایرة المعارف ـ دریم جلد ۵۷۵ مخ .

۶ـ قسیم الله طالب

قسیم الله طالب د وسیم الله زوی د پښتو ژبې او ادب د پخوانیو اولسي شاعرانو څخه ګڼل کېږي ، د ننګرهار د کوټ د هندرانو د کلي اوسېدونکی دی چې د وخت د مشهورو عالمانو څخه ګڼل کېده ، په دیني علومو کې د لوی لاس خاوند او مدرس و ، په شعر کې یې طالب تخلص کولو ، تر اوسه یې د اشعارو لیکلې مجموعه په لاس نه ده راغلې مګر ځینې نیکورې شعرونه یې ما په سینه کې د مختلفو اولسي سندرغاړو څخه راټول کړي دي .

نوموړی په ډېر سپین ږیرتوب کې د اثر په مرض مړ شوی دی . د وفات په برخه کې یې مختلف روایات دي خو تر ۱۳۰۸ ش کال پورې د ده ژوند په یقیني ډول رسولای شو ځکه د نادرشاه د پاچا کېدو په هکله یو شعر لري چې په لاندې ډول دی ؛

غازي محمد نادره! پاچاهي دې مبارک شه
په دين د پيغمبر يې
بيرغ دې د اسلام په ټول اوطانو باندې لک شه
بېشکه دلاور يې

قسيم الله په شعر کې زيات د عربي ژبې تر تاثير لاندې راغلی دی ، ده په خپل شعر کې مغلق ديني مسايل په خورا ساده او روان شکل بيان کړي دي خو په منظم ډول راته نه ښکاريږي .
وګورئ په لاندنۍ چاربيته کې د زمکې په باب يو فلکلوريکه نظر د شعر په ژبه مجسم کړی دی .

د چاربيتې د کسر بند

خدای کړله پيدا په خپل قدرت يو مرغلره
اته پردو نه رب په ښکاره کړه ظاهره
ښکند ورته لوګی شو تر ېنه جوړ شول اسمانونه
نوره راغله په هغه ځای باندې ايره شوله
زمکه په کتاب کې راښکاره شـــوله

په ښکاره او ښکند ډول نه شو ويلای چې شاعر په پښتو کې د کوم ادبي سبک پيرو دی مګر زياتره اشعار يې مذهبي او تصوفي رنګ لري .

علاوه پر دې يو نيم عشقي غزلې او چاربيتې هم لري نو په دې حساب ويلی شو چه د رحمان بابا د لارې ملګری ويلای شو .

د غندنې په برخه کې د قسيم الله طالب اشعار په سيمه کې زيات مروج او مشهور دي ، په اولس کې که چا د اخلاقــي معيارونو په خلاف کوم کار کولو نو د شاعر له خوا غندل کيدو.

وګورئ په لاندنې شعر کې يو ملا چې په ګيډه کې د ډېر حرسنالک دی داسې غندي :

د ډېر دی حرسنالک په ماکولي کې د غونډی ملا
بنا د به ورنه نه شي که واکدار شي د کونډی ملا

د ډېر دی حرسنالک که چېرته ګيني په کاسه باندې
لاس کاندي شکرېه ته د وډی ولغلي په غوسه باندې

دا عادت دې پر ډېر دی غوګه به يې کاندي پرې د ننګه ملا
د ډېر دی حرسنالک په ماکولي کې د غونډی ملا

د قسيم الله طالب داسې اشعار هم شته چې قوي انتقادي روحيه پکې نغښتې ده لکه په لاندنې شعر کې چې د غويي او انسان سوال او ځواب يې انځور کړی دی :

شعر

غويي د محمد جان دی هلته پروت دی په اوبو کې
تش ګوګه دی پاتې شوی غوښه نه لري هډوکې

غوږي وېل محمدجانه ډېر شوم خوار
قسم به درته وکړم چې نور ونه کړمه کار
راوغواړه چاړه زوی ته ناری کړه په تلوار
او س مړم نه پاتې کېږم خدای ته ږېږم په توبو کې

توبې خدای ته وباسم چې دې داسې کړمه خوار
زړه رنځ په ما ایښی دی خاوند پروردګار
هډوکي مې سکاره شو محمدجانه ستا په کار
څوا چې وم قوت کې تېل دې نه ځایېده دبو کې

بیا وویل غوږي چې محمدجانه خدای دې خوار کا
بې ثمره مخنئه !! خدای به ما درنه مردار کا
بیا وویل محمدجان چې درته در به کمبله کړم
ومرچک او هرېړه به درته در کړم په غوږو کې ⁽۱⁾

د قسیم الله طالب یادونه د ننګرهار د نوي مشهور اولسي شاعر حضرت ولي له خوا په یوه چاربیته کې داسې شوې ده د چاربیتې د کسر بند دا دی :

⁽۱⁾ محمدجان د هغه ځای د یو تېلي نوم و

ما د شاعر سره وعده ایښې ده کال
په وطن کې یم معلوم نکه د لا ل
په کلاوو کې عمرشاه زرجان مې شال
د کوټ طالب مې په تندي کې دی شین خال
په هوا باندې مرغانو خوب یوسئ عمرگل له
دولسم په میاشت کې تللی وم کابل له

د قسیم الله طالب لاندنی چاربیته په عروض برابره او هم د اعنات یا التزام مالایلزم صنعت پکې په کار اچول شوی دی .

چاربیته

شاه اغوستی تور رنگین   توره به یې سینه کاندي
توره د شاه پرتوگ دی نا   تور کمیس یې تال وهي
تور یې لا پرتوگ دی نا   توره پردی مال وهي
د توري دا دستور دی نا   د تور په مخ رومال وهي
تور ورنبل یې تار په تار   توره یې چې شانه کاندي

توري تور اغوستی   توره بې د لا له ځي
د توري زلفې خوشکې دي   توره تر مهاله ځي
تور او تور پرې وشکې دي   توره بنه سمباله ځي
تور ور پسې ژاړي نا   که توره د لاسه کاندي

تور د توري يار دی نا　　تور خالونه ګټ لري
د تور پسي بيمار دی نا　　توره يار په پټ لري
تور د شاه سينګار دی نا　　تور کرم نوبت لري
تور طالب جان شو رنځور
د تورو معامله کاندي

قسيم الله طالب علاوه پر ساده چاربيتو څڅيري چاربيتې هم لري، د مثال په ډول يې د يوې څڅيري چاربيتې د کسر بند دلته رانقلوم :

نن دې ايښی د ابرو په مخ کې خال　　پرې بند شومه في الحال
ژوندون مې شو خراب
په در کې در ته پروت يم موني نه شوم وصال　　کړې دې بد مې حال
په شان د مجنون

د قسيم الله طالب اشعار يوازې تصوفي نه دي، عشقي غونډې چاربيتې هم لري

چاربيته

ستا په چار ګل باندې د سرو زرو متارې دي
زلفې دې پنجرې دي

سپین څادر دې باغ　　همدا مې د زړه داغ
کړي په چرګ بانګ ګلونو مړاوې پنجرې دي

را دې کړو ځواب　　ځمه په شتاب
ستا د لاسه دې کې په عاشقو هدیرې دي

شان د درخانۍ لرې　　ښایست د ښاپیرۍ لرې
ما د ادم خان په شان ګرې شوکیرې دي

ژړي «طالب جان»　　ورکه سره لبان
ورکه سپینه خوله په هر طرف د غم نارې دي

اوس یوه داسې چاربیته دلته رانقلوو، کومه چې یو سندرغاړی یې د بل شخه ځواب غواړي او یا به یې ورباندې مقابل لوری خفه کولو (۱).

شاګرده وایه کوم دي اته ستورې د اسمان
دوه ځلې شپه کې خپې جواب غواړم په میدان

---

(۱) دا چاربیته هم پوره نه ښکاري .

شاگرده وايه کوم دي اته ستوري ببلا ببل
د شمال په لور ولاړ دي راسره مه کوه ځېل
نور جګ شه په ځواب کې يو ذره ونه کړې ډېل
وهم دې په شېبه يا وباسم د ې چشمان

شاګرده يو مې ولید عجيبه شيز معتبر
يو کېږه، دوه يې خولې دي درته وايم په ځېر ځور
بې اوره خوراک نه کا پکې وکه تصور
په نس کې يې درياب دی پرې پوهيږي عاقلان

شاګرده څلورم سوال کومه نه له تا نه
باران چې نازل کيږي دروازې له کوم اسمانه
بل برق د څه نه کيږي چې رڼا يې ده بېشانه
احوال که در معلوم وي ما خبر که په بيان

بيا يې وويل شاګرده نه يو سوال کومه نور
د «الف» او د «س» منځ کې هغه څه شی دی ظهور
ځواب درسره نه سته رنګه دې ورك شه د غل خور
درانه غوږونه ګوځې لکه خر د بيابان

PROPERTY OF ACKU 8069

بیا یې وویل شاګرده څه دی نوم د هغه مار
چې چاپېر دی له دنیا نه په قدرت د کردګار
بیا نوم د هغه څر څه دی جواب مې که تیار
چې سور به پرې روان وي مهدي اخر زمان

ه- عبدالحنان طالب

عبدالحنان طالب د ننگرهار د روداتو د حصارک او سیدونکی دی، زوکړی یې تر ۱۲۹۵ هـ پورې اټکلولی شو، د پښتو یو خوږ ژبی ولسي شاعر دی او په تېر عمر یې د مذهبي علوموسره مینه پیدا کړه او په دې برخه کې یې یو څه برې هم ترلاسه کړې، په شعر کې یې طالب تخلص کاوه.

وروسته بیا د زمانې ایجاباتو د ده تګ لاره بدله کړه او په کسب و کار یې شروع وکړه. په شعر کې یې عشقي رنګ زیات لیدل کیږي او س هم د سیمې پښتانه سندرغاړي د ده په شعرونو د دېرو او حجرو محفل تودوي، د اشعارو د مجموعې په هکله یې څه معلومات لاسته نه دي راغلي، د لته یې یو غزل د نمونې په توګه وړاندې کوم.

غزل

د محبوبې لیدل هسې مزه دار و
خوار مین ورته له ورایه ناقرار و

په جبین یې د سرو ټیک ځلیده هسې
د ابرو په مخ یې شین خال تانه دار و

کږې وروځې یې لیندې د باجوړ دي
بانه غشي یې ویشتلو ته تیار و

لوړه پوزه، سره شونډې، سپین غاښونه
ټول حکمت ورکې موجود د کردګار و

هسکه غاړه یې د هوسۍ په شان ښایسته وه
د پاولو او چمکلو پرې شرنګهار و

زه طالب عبدالحنان تل ځکه ژاړم
چې زما مین نصیب دا هسې خوار و (۱)

---

(۱) پښتانه شعراء دریم ټوک عبدالحنان طالب (پښتو ټولنه ۱۳۴۲ ش) ۷۲۴ مخ .

٦ـ طالب

طالب په کندهار کې د ۱۳۰۰ هـ په شاوخوا کې اوسیده.
د طالب اشعار په ملي او ولسي لهجه کې زیات شهرت لري، د ده اشعار زیات د ښتیانو مینې ښکارندوی دي، ژوندی یې ډیر لالهانده او سرګردانه تیرکړی، په هر ځای کې ځمکه وربانديې توده شوې ځکه په عشق کې یې زړه بایللی و. دا هم باید ووایو چې دغه طالب د علم د طالبانو له جملې څخه دی، د اشعارو نمونې یې په لاندې ډول وګورئ. (۱)

(۱) پښتانه شعراء ـ دریم ټوک. طالب (پښتو ټولنه ۱۳۴۲ ش) ۷٦۸ مخ.

غــــزل

پورتــه کړه له خوابه چشمان   ژاړي عاشقان په ارمان
سترګې دې په ناز کړې تورې   لمبې دې په ما خوارکړې پورې
راشه د عشق پــه لــورې   بوی دې ځي د مشکو ریحان
ستا د عشق پرما دی تاخون   ما له باید نه دی ژوندون
حال دې کړو زما د مجنون   نه راځې پــه لورې جانان
وایم د ا غــزل عجبه   راشــه زمـا د زړه مطلبه
غم دور کــه د خوار طالبه   ته که پرله پورې لبــان (۱)

بـــدله

نن دې شترګې ولې سرې دي   ته وا د ویــر دې دي ژړلي
یاره کوږ بانه دې غشي   عاشقان دې پرې ویشــلي
زیارتو لــــره بــه ځمه   خپل اشنا به یــا دومه
د ژوندون مې لاس په سر شو   ننګوم د لحــد مړي
نه طالب غریب فریاد کړ   چې دا خپل جانان را یاد کړ
د عمان دې کور خراب شي   نن یې بیا دي څه ویلي

---

(۱) بهار جانان ـ د مولوي محمد شریف پتولونـه ـ پېښور ۱۳۰٦ش کال ـ ۲۱ مخ .

۷ـ لوګری طالب

د دې طالب خیل نوم محمد علي او د پلار نوم محمد سرور دی. په قوم ستانیزی چې ستانیزي په سلیمان خېلو کې یوه پښه ده، په ښه تخلص د جون په ۱۹۲۶ع کال په پاړاچنار کې زېږېدلی دی. د منځنۍ زده کړې تر څنګ وروسته د لوړې زده کړې له پاره کابل ته راغی او بیا وروسته له کابله ګرځېږي، کوږمې پېښور او سوات ته لاړ، تر تحصیل وروسته پاړاچنار ته ستون شو. (۱)

بناغلی همیش خلیل لیکي چې: «په ۱۹۵۷ع کال یې

---

(۱) بېنوا عبدالرؤف - اوسني لیکوال دوهم ټوک - طالب لوګری دولتي مطبعه ۱۳۴۱ ش - ۸۵۹ - ۸۶۰ مخونه.

د منشي فاضل امتحان پاس کړو. د طالبۍ په وخت کې خپلو همځولو طالب بللو، ځکه يې همدغه تخلص انتخاب کړو. د کلام نمونې يې په لاندې ډول دي. (۱)

غزل

چې جانان چمن ته رو-رو په قدم شي
ګلان وارهٔ مراوي شوي تازه دم شي
هر عاشق ته چې د مهر ګتل وکړي
که ايله يې چېرته وچ د سترګو نم شي
چې بربښنا يې د غابنونو په نرګس شي
د شغلې نه يې د سترګو نظر کم شي
چې کړي پور ته يار د مينې دوارهٔ سترګې
رانه لرې بيا د دوارهٔ جهان غم شي
د باغ سروې که هر څو الف-الف شي
چې يار وويني د دال په شان خم شي
تول بدن يې بې نډې سوري غلبيل شي
چې د يار د بڼو عشق چاته مم شي

(۱) همیش خلیل، پښتانه لیکوال، لومړی چاپ- طالب لوګر (پېښور ۱۹۵۸ع) ۳۳۲-۳۳۴ مخونه.

چې مطلوب را ځاځ شي له در شمله
د طالب په سترګو را ورته شبنم شي

غـــزل

ژوندګي اوس خو د لته ګرانه شوله
ماڼۍ د ننګ پرېوته ورانه شوله
چې مې غریب په تن بربنډ ولیدو
وینه مې ځان کې سرګردانه شوله
دا ن عملي معما شکې دی
چې راته ګرانه وه اسانه شوله
قدم قدم باندې فساد فساد دی
زمانه لاړه بې ایمانه شوله
وایې عالمه چې به اوس څه کیږي
د ژوند لیلی چې مې ناتوانه شوله
په ننګ اوپت باندې چې سر ورکوم
جوړه زما مینه اوس ځوانه شوله
طالب په رښتو رښتو خود به ژاړي
د قنج مکېز لیلی پښېمانه شوله

طالب لوګری په شعر کې د قوي لاس خاوند دی، د

اشعارو د مجموعې په شکله یې اوس څه پته نه لګي او نه یې په کومه تذکره کې د دیوان یا د شعرونو د مجموعې یادونه شوې ده خو متفرق اشعار یې د پښتو په مجلو او جریدو کې خپاره شوي دي. د ده د اشعارو هنر افریني په دې کې ده چې زیاتره ولسي رنګ لري او د خوارې کښو خلکو د ځورونو انعکاس پکې له ورایه معلومیږي، د مثال په ډول یې لاندې شعر وګورئ.

د اختر!!

په سر سرتور دی، غریب نهر دی
دا څه اختر دی؟ دا څه اختر دی؟
دی حقیقت کې عید د غنیانو
د غریب هر وخت پېټی په سر دی.

د چا په زړه کې د غم ټپه وي
د چا په ژبه د عیش نغمه وي
یالویه خدایه! هغو ته ژاړم
په چا اختر هم چې عاشوره وي (۱)

---

(۱) وګورئ د غنچې مجله، ۱۹۶۱ع کال، دولسمه ګڼه، دیارلسم مخ.

۸- ملا رستم طالب

ملا رستم د مومند خان زوی د ننګرهار ولایت د مومندو
ولسوالۍ د ګردي غوث د کلي یو تکړه ولسي شاعر دی چې په ۱۳۰۲
لمریز کال په نوموړي کلي کې زیږیدلی دی .

دی لا ووړکی و چې د خپله پلاره یې لومړنۍ زده کړه وکړه
او بیا د اتو- نهو کلو په عمر پېښور ته لاړ او په زده کړه
یې پیل وکړ ، له یو څه وخت نه وروسته له پېښور نه بېرته
کلي ته راغی او د ننګرهار د سیمې د ځینو دیني پوهانو نه یې زده کړه
وکړه . یو څه وخت د دې په کلي او بیا یې تقریباً دری کاله په
شینوارو کې لوست وواییه . همدارنګه د کابل په کوهدامن کې
یې هم یو څه وخت د طالب په توګه تېر کړی . په دیني کتابونو
کې یې تر فقه ، نظم ، صرف ، نحو ، منطق او نورو ... لوستي دي

ملا رستم تقریباً د یوویشت (۲۱) کلو راپه دې خوا د کردي غوث د «لنډۍ» په کلي کې ملا امام دی چې په دا دومره وخت کې یې ډېرو شاګردانو ته درس ورکړی. اوس هم چې عمر (۵۵) کلو ته رسیږي په هغه دنده بوخت دی.

دی له ډېر پخوانه د شعر او شاعرۍ سره مینه لري او شعرونه یې د ساز سرود سره یو ځای د ولسي سندرغاړو له خوا ویل کیږي چې ټول خلک ورسره ډېره مینه لري، د شعرونو ځنې یې د رحمان بابا د رنګینه اشعارو بوی ښکاره کوي او د هغې تصوفي مکتب له پیروانو څخه دی، په خپلو اشعارو کې یې زیاتې ټولنیزې نیمګړتیاوې په ګوته کړي او د شعر په رنګینو تارونو کې یې په ډېرو ټولنیزو ستونځو په چیغو چیغو ژړلي دي. البته دا ژړا له غیرته ډکه ژړا ده چې یواځې ژړا یې نه شو بللی او د ژوند د یوه اړخ انځور پکې هم په ښه ډول ترسیم شوی دی.

ملا رستم په خپلو اشعارو کې د طالب یا طالب جان او کردیوال دواړه نومونه راوړي چې البته لومړی نوم یا تخلص د ده د طالبۍ د مسلک په اساس او دوهم د کلي په اساس دی. نوموړی ډېر اشعار لري چې هم د موضوع له پلوه ډېر دي لکه عشقي، ټولنیز، تصوفي او نور او هم د بڼې له نظره ډېرې بېلګې لري لکه بولله، چاربیته، مقام، غزل، څلوریزه، لوبه کیسې او نور.

دا دی مونږ هم د ده د اشعارو څو بېلګې د ده د شاعرۍ د څرګندولو په غرض دلته رانقلوو. (۱)

دعا

ای د لوی قدرت خاونده ذالجلاله
پادشاهي دې ده قایمه بې زواله
د ګناه پېټي مې ورځ په ورځ درنیږي
ای خالقه فریادي یم ستا درګاله
ته غفور یې هم رحیم یې هم رحمان یې
د بخشش امید په کار دی هر اشاله
په قدرت سره دې ټول جهان تکمیل کړو
د عزت چوکۍ دې ورکړه ادم بېبي حواله
طالب جان به ارماني لاړ شي د دنیا نه
تل پرې خپل رحم کرم کوه جلاله

---

(۱) د ملا رستم طالب په هکله یاد دښتونه راته ګران ملګري او ځوان لیکوال محمد زرین کامران راکړي، زه یې د دغې ادبي مرستې ډېره ډېره مننه کوم.

غــــزل

تورې سترګې- سپین بشرې د اشنا
شینکی خال په مخ قمرې د اشنا
تورې وروځې یې لیندۍ باڼه یې غشي
ما پرې ولې دا خبرې د اشنا
شرګه پوزه یې الف د سپینو زرو
سور پېزوان پرې لکه لمرې د اشنا
سره لبان یې، سپین غابونه ښایسته خوله
شته خبرو کې اثر مې د اشنا
سپینه غاړه کې یې پراته د سرو هارونه
پرې جړاو دي لال ګوهر مې د اشنا
تورې زلفې یې سینه باندې ځنځیرې
ښاماران دي په صدر مې د اشنا
سم قامت یې لکه سرو د بوستان دی
ګرد یواله شه نوکر مې د اشنا

ملا رستم طالب په پښتو ادب کې یو د هغه شاعرانو شخه دی چې زیاتې مذهبي کیسې یې په لنډ ډول سره منظومې کړې دي چې د بېلګې په ډول به یې د هغه کیسې د سر او پای برخه دلته راوړم کومه چې د حضرت عمر (رض) د عدالت

په برخه کې ده ، دغه کیسه اته شلو بېښت بیتونه لري .

دکیسې د سر برخه

چې دوره د خلافت راغله عمر رض ته
بنه کیسه ده غوږ دې ونیسه خبر ته
دا یې خوی ، دا یې عادت ، دا یې کردار و
د خوارانو بېنواوو مددګار و
د سخاوان یې خورېه درسته جهان و
پادشاهان د زمانې ورته حیران وو
په خپل عصر کې بېشانه دی عادل و
خوار غریب یې په انصاف باندې قایل و
هره شپه به ګرځیدلو کور په کور
داسې نه چې څوک په چاوکاندي زور
زه به پروت یمه بې غمه په بستر
مظلومان به راته ګرځي لر و بر
مې باید چې زه یې وکړمه پوښتنه
چې سبا روز جزا شته ده دی غوښتنه
یو مقام ته رسیده شو ناګهانه
یوه خېمه ورته له ورایه شوه عیانه

— — —

د کیسې د پای برخه

که په دغه زمانه کې وي کوم خان
یا ملک صاحب په لاره وي روان
یو غریب که وي په درد کې ګرفتار
د ملک صاحب به پرېږدي دغه لار
ورته وايي به چې لرې شه بدبخته
چرې نه چې په موږ راته ولې سخته
که یو خان ته یو مسکین وکاندي سوال
چې څه راکړه په نامه د ذا الجلال
وايي به ورک شه د سندا قدرته یلن یې
دا کیسې چې راته وايې دروغجن یې
لاړ شه چا سره مزدور شه ای کمبخته
سوال حرام دی په ځان مه راوله سخته (۱)
دا دی حال د دې خانانو ملکانو
موږ به چاته فریاد وکړو هوښیارانو
نوره بس دی دا کیسه شوله تمامه
طالب جانه زمانه شوه دراسې خامه

---

(۱) د «سخته» کلمه د دریم بیت نه وروسته بیا تکرارًا راغلې ده او په قافیه ورته د جلي ایطاء عیب وايي .

۹ـ محمّدرسول طالب

محمدرسول طالب د محمدقيس ساپي زوی د کونړ د بودیالۍ اوسیدونکی د پښتو ژبې تکړه ولسي شاعر دی چې وخت د نورډرې په ښوونځي کې ملازم و .

نوموړی په ژوند کې ډېر لاالهاند او سرګردانه یو ځای او بل ځای ګرځېدلی دی .

حتی یو وخت د خپل وراره د مړینې نه وروسته په امام نبي بابا کې چې د سیمې یو مشهور زیارت دی مینجور و. (۱)

اشعار یې زیاتره په ملي وزن برابر دي . په ۱۳۰۱ش

(۱) زېری، ۱۳۵۴ ش کال، ۳۱ غبرګولی، ۱۲ مه ګڼه ، ۲ مخ .

کال زیږیدلی او په ۱۳۴۲ ش کال وفات شوی دی. (۱)

اوس به یې د بېلګې په ډول یوه بګټۍ د لته رانقل کړو.

بګټۍ

اوربل دې جلې په تندي خور
سېځي عاشقان ولې په اور

اوربل دې جلې کړمه غمګین
خوړلی دې یم تور لونګین
یارې دې کړلو زړه راته خوږین
هېش ورپسې ګرځم سرتور

هېش ورپسې یم په هیبت
بېلتون دې کړمه ډېر ناطاقت
نن جوړ دی پر ما د غم قیامت
مغرورې جلې ظلم دې زور

---

(۱) زلمی هېوادمل، فرهنګ زبان و ادبیات پښتو طالب محمد رسول، ۲۸۳ مخ.

مغرورې جلې، کړي د ولونه
په زړه يې راکړي، سوي داغونه
زما له قصده کوي، دا مکروبنه
لمسون دی کړی، نن ورته مور

او ربل دې جلې دی تار په تار
ستي يې کړمه د عشق په نار
غمونه يې کړل په ما انبار
محمد رسول دی له رنګه تور

۱۰- وزیر طالب

وزیر طالب اصلاً د کوهاټ اوسیدونکی دی او د خپل وخت د مشهورو عالمانو او په احادیثو کې د لوی لاس خاوند دی. د لومړي ځل له پاره اوس د ده د پېژندګلوۍ یادونه وشوه، په شعر کې طالب تخلص کوي، نوموړی اوس ډېر سپین ږیری شوی او په سوات کې اوسېږي. د یو نعت نه پرته یې د اشعارو نور نمونې زموږ په لاس کې نه شته.

نعت

یا رسول الله عربي ماه جبین تابان یې
رحمة للعلمین سرداره
راحت دل سوخت من خوبرو جانان یې
ای په کل نبیانو کې مختاره

ته وې په جنت کې د ادم صفی الله بره
اور کې د نمرود وې ابراهیم خلیل الله سره
هم وې په میدان د قربانۍ ذبیح الله سره
نوح نبی الله سره ملګری د طوفان يې
رحمة اللعلمين سرداره

نوم لیکلی ستا غمي کې پته د سلیمانو
حُکه يې تابع په دغه مهر کل جهانو
راز که ذموسیٰ په کوه طور کې له سبحانو
میلمه کړی رب العزت پاس په لامکانو
رحمة اللعلمين سرداره

راد يې وړو تشریف د ګل په ورځې دیثرب ګله
ودې کړو هجرت د ګل په ورځې منتخب ګله
لاړې له دنیا نه د عجم او د عرب ګله
تلی د ګل په ورځې د دنیا له ګلستان يې
رحمة اللعلمين سرداره

شمعه کې ستا نور دی ځان پرې سیځې پتنګان
ای حبیبه ګوري دې هر ګل کې بلبلان
زه یواځې نه یم هر عاشق له تا قربان
ای زما دلبره د هر چا د زړه ارمان یې
رحمة اللعلمین سرداره

شومه سودایي، شو رانه پاتې صبر فمیر
ای حبیبه د ہجر یم په درد د استا زهیر
نوم مې طالبانو کې مسکین طالب وزیر
ځار شمه له تا نه ته زما دین او ایمان یې
رحمة اللعلمین سردار یې

۱۱- طالب الجامعیٔ

د بانګ حرم په نوم د پښتو شعرونو یوه کوچنۍ رساله یو وخت لاس ته راغله چې د رسالې په پوښ یې داسې لیکلي دي :

„ بانګ حرم بزبان افغانی ، تالیف حقیر طالب الجامعی ، ۱۳۸۸هـ ، ۱۹۶۸ع ، یونیورسټي بک ایجنسي خیبربازار پېښور ښار . "

کله مې چې دغه رساله له سره ته ترپایه ولوستله داسې یو شعر ورکې پیدا نه شو چې د شاعر د ځای او پوره پېژندګلوۍ ښکارندوی وي . کتاب بې مقدمې په شپېتو مخونو کې چاپ شوی . د راغونډونکي او مهتمم نوم هم نه لري، بنایي کتاب په خپله د مؤلف په اهتمام وي او یا د نورو تجارتي خپرونو

په شان بې مقدمې نشر شوي وي . خو په هر حال د کتاب په سر کې د شاعر پېژندنه نه ده شوې ، نو موږ ونه شو کولای چې د نوموړي په باب پوره معلومات وړاندې کړو مګر په غالب ګومان د ومره ویلای شو چې اوس به هم ژوندی وي .

د تالیفاتو په هکله یې غیر د هغې کوچنۍ شعري رسالې څخه نور منثور او منظوم اثار زموږ لاس ته نه دي راغلي .

اوس به د بانګ حرم د شعري مجموعې څخه یو مبنی شعر د لته را نقل کړو :

در تعریف باری تعالیٰ

نه په نام د هغه رب کریم ابتدا
چې رحمٰن دی هم رحیم دی تر هر چا
هم اول دی هم اخر دی هم ظاهر دی
هم باطن دی پادشاهي کړي په ربښتیا
حکومت یې همېشه دی بې زواله
اوس هغه شان لکه ځرګ و فردا
خدای احد دی پادشاهي کاندي په خپله
هر یو شی یې کړي په ژبه ده ثنا
نه یې ضد شته نه یې ند شته لاشریک دی
نه یې مثل نه مثال شته په هر خوا

بې ستنه يې اسمان دی درولی
لمر، سپوږمۍ، ستوري يې دي پکې پيدا
شپه او ورځ يې جوړه کړې په قدرت ده
له افتاب سره يې جوړه ورځ رڼا
په حکمت سره يې ځمکه جوړه کړې
هميشه پکې جاري يې ده هوا
بيا په ځمکه دا لوی غرونو ته نظر کړه
تماشا يې بيا ځنګل او د صحرا
بيا په خلک چې شي تنګي باران پرې وکړي
په يوه ګړۍ جاری کاندي دريا
لوی بحر شور چې يو بل خواته دروي
هيڅ د خدای ج بې امري نه کاندي ګويا
دريا نيل چې په ملک مصر کې بهيږي
نجريا کې شي په ځمکه غايب صفا
لوی خدای ج دا سې قادر دی په هر څيز کې
په حکمت سره يې هر څيز دی پيدا
محبت مينه د خدای ج سره په کار ده
بې له خدايه هيڅوک نه لري بقا
زه طالب د هغه رب ثنا خواني کړم
چې خالق دی د جمله وارو اشيا

۱۲ـ شمس الدین طالب

شمس الدین طالب د ۱۳۰۰ هـ په شاوخوا کې د کندهار د «حوا» د کوټې او سیدونکی او د ملا میر یحیی معاصر دی.

نوموړی د دیني علومو طالب العلم او فی البدیهه شاعر و چې شعري مقابلې یې د ملا میر یحیی سره اوس هم د کندهار د خلکو په خولو کې پاتې دي. (۱)

بنه ابتدا وه په بسم الله وه ـ وایم حمد و ثنا

که شې ښنیا خواب چې خوښتی وـ میر یحیی

د شعر نمونې یې ښاغلی زلمي هېواد مل د سید احمد چې د گلزار سید احمد مدون هم دی اخیستي دي.

---

(۱) فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ زلمی هېواد مل ـ شمس الدین طالب ۲۵۵ مخ.

۱۳- رشید طالب

رشید طالب د پښتو ژبې یو کیسه ویونکی شاعر دی چې د پکتیا ولایت د ځاځیو په اریوب کې اوسیده. پلار یې ملا لعل بېګ نومیده او اخون مصطفی یې نیکه او یا پیر استاد و، لکه چې وایي:

د ملا لعل بېګ فرزند یم	د اخون صاحب د لبند یم
مصطفی اخون یې نوم دی	دی زموږ وارو پېشوا دی

رشید طالب د تیمورشاه سدوزی همزمانه دی. ده خپل کتاب د ګل سنوبر کیسه په ۱۱۹۴ هـ کال په پښتو نظم اړولې ده.

په دغه کال تیمورشاه د اریوب په لار پېښور ته
تللی و ، لکه چې طالب رشید وایي :

پادشاهي د تیمورشاه وه   چې پښتو هم د اشنا وه
په اریوب چې تېرېدنه   په هغه کال پښتو کیدنه

د گل سنوبر د پښتو کیدو کال یې په دې ډول
ښودلی دی :

د حضرت وو زر سل کاله   شلو رنوي وو بانديې لاله
په پښتو گل سنوبر شوه   په سینه کې مقرر شوه

طالب رشید د ځاځیو د اریوب په سمسوره او ښېرازه
ورشو کې او د سپین غره په ښایسته لمنو کې د خپلې مورنۍ ژبې
د ژوند او ښایست له پاره کړاوونه گاللي او د پښتو ادب
لمنې یې د دغې ښکلې خوږې کیسې په کښېدو ښایسته کړې
ده . د گل سنوبر کیسه ده د خپلو ځلورو ملگرو په سپارښتنه
له دري نه په پښتو اړولې ده ، لکه چې وایي :

نور یاران چې څو که هغه وو   په مجلس کې چې کره وو
د غو ولړو ووې ما ته   چې خبره کړو وتا ته

د ا کتاب راته اسان کړه　　په پښتو یې ته عیان کړه
چې یاران سره مین وي　　ګران په یاری هر یو ځني
نور د دوی خبره د له　　ما په سترګو ومنله

د طالب رشید د دغو څلورو یارانو نومونه دا دي:

۱- بابوجان
۲- ملا شیرین خان
۳- ملا رحیم
۴- ملا ولي

رشید طالب په بنګاره توګه وایي چې ما دغه رساله له دري نه په پښتو کړې ده ، لکه چې وایي:

دا رساله پارسي وه سخته　　په پارسي ژبه یک لخته

د کتاب په اخر کې وایي:

شکر شکر یا وهابه　　چې دي خلاص کړم له کتابه
رساله وه د پیشترو　　ما پښتو کړه په خبرو

د ګل سنوبر دغه کیسه په روانه او خوږه پښتو لیکل شوې ده . دغه توګه لنډه مثنوي له څخوا په پښتو کې

رواج لري او اته‌چپيزه ورته ويل کيږي . دغه کيسه کې ځای په ځای ټپې او غزلونه هم راغلي دي ، کله چې کيسه - ويونکی سترې شي نو د دې له پاره يکې کومه ټپه يا غزل هم وراچوي . د ګل سنوبر پښتو کوونکی هم د کيسه ويونکو د دغه عام قانون پيروي کړې ده ، دی د خپل کتاب خوند او معنوي قيمت ته داسې اشاره کوي :

داکتاب چې څوک ‌ه وايينه — په معنوي اګاه شينه
د ېر لذت به ورکوينه — که چيرې څوک ‌يې ولوليينه

د طالب رشيد شعر که څه هم روان او ساده دی خو د لوړې درجې شعر ورته نه شو ويلای يعنې په شعر کې يې کوم خاص اوچتوالی نه ليدل کيږي بلکې رواني خبرې يې د وزن او قافيې په چوکاټ کې اچولي دي . رشيد طالب که څه هم د اريوب په سيمه کې او سيده خو ژبه يې د پښتو د عام ادب د شريکې لارې تابع وه او محلي لغات ورکې ډېر نه ليدل کيږي . د طالب رشيد د ژوندانه په باب نور زيات معلومات په لاس نه شته .

د ګل سنوبر اصلي کيسه د يونان د زړو کيسو په لړ کې راځي خو په دري ، اردو او پښتو ژبه کې په بېل - بېل ډول ترجمه شوې ده . د ګل سنوبر دغه پښتو کيسه څو کاله پخوا د يوې قلمي نسخې له مخه د مير شرف خان وزير په سريزه د پېښور

د پښتو اکیډیمی له خوا چاپ شوې او د پښتو ادب مینانو ته وړاندې شوې ده .

په دې کیسه کې د عشق او مینې رنګارنګه پېښې، د دېوانو او پېریانو کیسې ، ناآشنا-ناآشنا کارنامې ، جګړې او جنګونه او نورې ډول- ډول پېښې راغلي دي . دا کیسه د یو دېوله خوا د یونان یوې شهزادګۍ ته ویلې شوې وه خو هغې بیا پټه وساتله او د خپل واده د شرط په توګه یې دا اعلان وکړ چې څوک ماته د دې ځواب راکړي چې ګل په سنوبر څه وکړه ؟ او سنوبر په ګل څه ؟ نو زه به ورسره واده وکړم ، اخر د روم یو شهزاده د ډېرو کړاوونو وروسته د دغې پوښتنې ځواب ورکړ او د دواړو د واده شرط پرځای شو - تر واده وروسته د یونان شهزادګۍ ګل اندامې او د روم شهزاده فیروزشاه اویا (۷۰) کاله په خوشالۍ سره تیر کړل او بیا یې د ژوند کیسه ختمه شوه .

اوس به مونږ د ګل سنوبر د کیسې یو څو نمونې په وروسته ډول راوړو .

د کیسې د شروع څخه

یو پادشاه و په یونان کې — د یونان ښکلي بوستان کې
یوسف شاه د ده نامه وه — په هر لوري یې دمدمه وه
یوه لور وه تر ټولو ښکلې — تر افتاب تر ماه ښکلې

گل د حورې پې صفت و | درست وجود یې جوړ چت و
چې د دې د سروښته وو | له وریښمو نه پاسته وو
غاښ یې سپین تر ملغلرو | چې به دا شوه په خبرو

د کیسې له مخې څخه

راوې دارنګه وېلي | په کتاب کې مې لیدلي
شهزاده چې مامور شا | دی وتلی په صحرا
په صحرا و په ښکار تللی | و صحرا ته رسیدلی
ناګهانه سل سوارتې | وریښکاره شوې خوبصورتې
چې په دوی کې وه ګلانه | د هغوی سوپلیدل خانه
دې په لاس کې یو ښه غیز و | د ډېر بهتر ښکلي میز و

د کیسې له پای څخه

شهزاده له هغه پسه | پادشاهي واخیسته کسه
عدالت یې په بنه شان کې | خوار غریب یې ډېر ښاد ان کې
بې حسابه یې لښکر شو | زور ور په هر کشور شو
او یا کاله په راحت و | په داهسې شان شوکت و
ګل اندامه ورسره وه | په او یا کاله ګره وه
د هجران احوال به لا له | د رته نه وایم له قاله . (۱)

---

(۱) پکتیا مجله - پوهاند رښتین - ۱۳۵۵ ش کال - دویمه ګڼه
طالب رشید - ګل سنوبر - څلورم مخ .

۱۴ـ جمعه گل طالب

زموږ پېژندنه د نوموړي شاعر په هکله ډېره لږه ده ځکه تر اوسه یې یواځې یو بګتۍ غوندې شعر کوتوته راغلی دی او دا هم په یقین سره نه شو ویلای چې دغه شاعر د چا زوی او د کوم ځای اوسیدونکی دی خو غالباً د ننګرهار د سیمې به وي .

و ګورئ د شعر نمونه یې په لاندې ډول ده . (۱)

---

(۱) د طالب جمعه ګل د شعر نمونه د ننګرهار د یو ولسي شاعر د خولې څخه زما یوه ملګري او ځوان لیکوال بناغلي محمد سراب ماته راليکلې وه .

جادوگــــرې جلی   نخـــره گـــــرې جلی
ځان دې جوړ کړه په خیال   خیـالي گـــــرې جلی

توره بانه دې شمشیر   سپینه خوله دې پنیر
تا په ما کـــړې سیر   سیر گـــرې جلی

ماته راوړه مرهـم   سپین بازو دې صنم
ته په ما کـــړې ستم   ستم گـــرې جلی

نه طالب جمعه گل   یم زخمي په کوګل
سپینکی مخ لرې گل   گل صـد بـرې جلی

١٥- طالب گل

طالب گل د اتلسمې عيسوي پېړۍ يو مشهور حماسي شاعر و ، د پښتونخوا د شعر هار و بهار کې جمزد ارښتي د ده يوه چاربېته را نقل کړې ده چې په دغه چاربيته کې يې د پښتنو قهرمانانه مبارزې د انګريزي استعمار په مقابل کې په ډاګه بيان کړې دي . رښتيا که د دغه چاربيتې ته په غور سره نظر وشي نو دا به راته ښه جوته شي چې شاعر د انګريزي استعمار سره د پښتنو قهرمانانه او بې سارې مبارزې د شعر په رنګينو الفاظو کې بيان کړې ده . نو په دې اساس د سيمې يو ژوندی تاريخ يې بللی شو ، دا ځکه چې د انګريز استعمار سره د افغاني مبارزينو يو اړخ ورکې په ښکاره ډول انځور شوې دی .

د ښېرد جنګ چاربیته

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام
پکې توره شوه د حضرت د باغ ګلونه
د انګرېز لښکرې راغلې له لاهوره
ځینې توپې غمبارې ځینې هاتیان وو
څوک خبر نه وو د دې کافر له زوره
ځینې خره، ځینې تتوان، ځینې سپکان وو
دبدبه یې وه خوره بتر هره لوره
ورغرره د پښتنو ښکلې سپاهیان وو
له دېلنه یې راپورته کړو خیل قام
په ملکا باندې یې جمع کړه فوځونه (۱)

په ملکا چې د بره شول مجاهدین
په غزا پسې راغلي وو له لېرې
فرنګي ورته نیولې و دوربین
ورته یې وېل چې شئ زما له مخه لیرې

---

(۱) د پښتونخوا د شعر هار و بهار - جمع زدار مستتر - دریم چاپ، پښتو ټولنه - ۱۳۵۶ ش کال - ۱۵، ۲۵، ۲۸ مخونه

مولوي وېل ستا به نه کېږي يقين
مونږ ته مه کوه نرمې نرمې خبرې
يا به واړه خو په تا باندې تمام
يا به هېر کړې کمېنې نه حکمتونه

فرنګي وهندوستان وکړ قهر (۱)
تاسې څوک يې چې کوئ راسره جنګ
د مونږ ځونو زما هېڅ نه شته دی شمار
دا ملکا به کړم په تاسو باندې تنګ
مولوي وېل زه به ټول کړم زميندار
د کڼار صلحت به زاولم په ننګ
کمشنر وېل زه به وروکړمه انعام
که ځای وکړه په غازيانو ګذارونه

د بېګي اخون صاحب رانغی له سواته
ټکاوني يې ونيوه په انبېله کې
مغه د کوله پلټنې يې ولېږه کړه ميراته
په باطن به ولاړ وو په معامله کې

---

(۱) تورمېرېښې - عبدالله بختاني - ۱۳۴۷ ش د ۲۶، ۲۹ مخونه.

ویل نن ورځ د جمعې ده ګوری سباته
ځای په ځای به وي مرګو په رسالو کې
بنیروالو دا ره وکړه مېنه ماښام
په ګورو به یې هر دم کړه ګذارونه

په فرنګ باندې معامله شوله تر ډېره
بېرته تښتي که چا ورکړه ورله لاره
توبه ګیر شو سوات سیمې له بنیره
د ټبر عالم شو په کندو کې تېره مردار
دا حمله یې کړه د دوی له مرګه تېره
چې راتله به پښتانه سپرې وار په وار
چې د سوات عالمو وکړه ورته پام
باجوړو له فرنګي وکړه قتلونه

باجوړو ویل ده راپېښه له تقدیره
فرنګی له کلکتې شو راروان
که خدای کاندې خلاص به نه شې دا یې پېره
که له دېره پسې راشې عزت خان
څوک خبر نه وو له دې کافر ځنځیره
په روپو باندې یې پرېښود خپل ایمان

د صاحب په مخکې يې ونه کړ سلام
رب دې وران کاندې د دې کافر ملکونه

فرنګی راغی د پره شو په دربند کې
د عيسیٰ زې جرګې ته يې کېښوده قرآن
وېل دا مال دولت به يوسه په بند کې
دا ملکونه به کړم تاسو بانديې وران
پښتنو وېل راتله نه شته دی په ژوند کې
صد رحمت شه پرې پوهيږي قبول خان
زه طالب ګل يم د کاکا صاحب غلام
ما د شعر په کار کې وپېيل هارونه

طالب ګل خېل ځان د کاکا صاحب په مريدانو کې شميري .

تر اوسه زموږ معلومات هم دده د اوسيدلو د ځای او نورې مکملې بيوګرافۍ په هکله نيمګړي دی خو د چاربيتې څخه يې معلوميږي چې د پېښې ځايونو ته نژدې اوسيدلی دی . نو ښايي چې د باجوړ او يا د هغه د شاوخوا سيمو اوسيدونکی وي، ځکه چې شاعر د خپلې سيمې د خلکو زياته مدحه کړې ده .

۱٦ـ طالب جان

نوموړی د پښتو ژبې یو تکړه فکاهي ویونکی شاعر دی ، د شینوارو د لویې ولسوالۍ د مندانکه په کلي کې اوسیږي ، اشعار یې زیاتره په ملي اوزانو برابر دي .

د فرهنگ زبان و ادبیات پښتو مؤلف دغه شاعر خــــو کاله وړاندې مړ بښودلی دی یعنې په ۱۳۴۰ش کال مړ شوی (۱) . مگر طالب اوس هم ژوندی دی او په اینده کې به یې پوره پېژند گلوي وړاندې کړو .

په بار بار به ثنا وایم د رحمن خپل
چې په توتو ماړه کړه طالبان خپل
که رالوېږي ما خبر کړه طالب جانه!
چې چخړیت نه کړې برگي برگي توتان خپل

د طالب جان دغه شعر اوس هم د توکو په ډول د سیمې خلک د طالبانو پسې وایي .

---

(۱) فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ، ۲۸۲ مخ .

۱۷- تور طالب

مومنږ تور طالب د یوې چاربیتې څخه پېژنو چې په «توربرېښ» کې عبدالله بختاني رانقل کړې ده؛ تور طالب پوهاند صدیق الله رښتین د باجوړ اوسید ونکی بولي.

د تور طالب د پوره پېژندګلوی په هکله کوم معلومات تر اوسه زمونږ ګوتو ته نه دی راغلی، اوس به یې هغه چاربیته چې په «توربرېښ» کې راغلې ده دلته رانقل کړو.

دارناوی د غزا چاربیته

غزا د ارناوی وه د شنو توپو ږلی وه
ساپي پرې رژیدل لکه ګلونه د نمیر.
تول وو د سره تیر (۱)

---

(۱) توربرېښ، عبدالله بختانی، د ارناوی غزا، تور طالب پښتوټولنه ۱۳۴۷ ش، ۸۵ - ۸۸ مخونه.

غزا وه په کفارو   غوښه ښه کښېدې هوښيارو
د ټول ساپي سالار و د کونړ مير زمان خان
جبين يې و روښان

جبين يې د نرګس و   بدن يې د طاوس و
ورپسې تمام ولس و، هر غازي لکه پتنګ و
اسلام د کفر جنګ و

او وه کښه بادران شول   جنت ته ځې روان شول
جنت ته ځي روان شول، څوک تلي وزنه چاپېر
ټول وو له سره تېر

جنت کې يې دېرې شوې   د ګلو منجرې شوې
د قهر سترګې سرې شوې د حيدر ولي لاړې چېرته
ساپو ورځې په بېرته

او باسې پسې ښورې   پيالې ګرځوي حورې
ځان مه کړه که تربور يې چې لا نه شې له ميدانه
ښکاره دې کړه مړانه

ښکاره ز لمي د جنګ شو   ستانه بېرته په ننګ شو
په سرو وینو کې رنګ شو، ارمانونه دې دو سولي
د شنو توپو ږلې وه

حیدر چاره په لاس   ور ستون شو په اخلاص
وهل به یې کوز و پاس، په کفن کړه ولګه شېر
ټول وو له سره تېر

دې شېرې وکړه توره   مور شوله په ده بوره
بدن یې ډک له نوره، افرین شه په قتلان
مړ دار یې کړه سګان

مور چل کې یې شهسوار و   جنت له امیدوار و
ملکری یې سردار و، له کولونه که ځولي وو
د شنو توپو ږلې وه

خزان راغی په ګلو   شور که شو په بلبلو
جنت د هغو خېل و، چې تمام یې کړه پورې سېر
ټول وو له سره تېر

جنت شه ستړي قربان ورځي مير اعظم خان
ورځي مير اعظم خان، لايق د حورو دی کل مست
د خدای په مينه مست

د خدای په مينه سرشو په حمکه باندې زېرشو
چه روز د خلکو هېرشو، په کفارو يې حمله کړه
ستړې غوښه به يې کله کړه

ستړې غوښې به يې مړه کړې کفارو به زارۍ کړې
بختيار پسې خوارۍ کړې، د بيرغ څکې لولی وه
د شنو توپو ړلی وه

د ستور طالب بيان ښکاره په درست جهان
بادر مير زمان خان لره به ورکړي عزت دېر
پتول وو له سره ستېر (۱)

---

(۱) د پورتنی چار بيتې د کسر بند مخ او وروسته شوی دی.

فوځونوکې ایسار شو   چا وېل پاتې شهسوار شو
نظر پرې د سرکار شو وې لایق د بادرۍ دی
خود زوی د زمرۍ دی

اوچت یې کړې دولۍ کې   ورورېږي یې تاده کې
تېزابو په کولۍ کې چې پتۍ ورکړې درازه
شي طبع به یې پورې سازه

چاپېرتري حکیمان وو   خدمت ته په بېشان وو
ولاړ په هر زمان وو تري پر ته لاندې نالۍ وه
د شنو توپو پنسۍ وه

۱۸- عبدالرؤف طالب

عبدالرؤف طالب د روانې پېړۍ په لومړيو ختونو کې د صوبه سرحد په ډېره خېلو کې اوسيده .

فالنامهٔ قرآن عظيم الشان يې په پښتو نظم تاليف کړې ده .

نوموړی شاعر يواځې د فرهنګ زبان و ادبيات پښتو له مخې مونږ پېژنو ، په پورتني کتاب کې يې د شعر نمونه په لاندې ډول راغلې ده (۱) .

ما طالب عبدالرؤف — د ډېره خېل کې يم معروف
چې مې وکړه ورته فکر — ځکه ومې کړ دا ذکر

---

(۱) فرهنګ زبان و ادبيات پښتو ، ۳۰۷ مخ .

۱۹- ولي محمد طالب

نوموړی شاعر د صوبه سرحد او مسیدونکی دی او د ستر و لیکوالو و محو شاعرانو په ډله کې راځي .

د پښتو ادب په طالبانو کې دا یواځینی شاعر دی چې زیات تالیفات لري ، هغه تالیفات یې چې موږ ته معلوم دي په لاندې ډول سره دي :

۱- بهادره معشوقه

۲- بیربل نامه

۳- د حجرې محفل

۴- د شیرعالم او میمونې کیسه

۵- د چراغ الدین کیسه

۶- د شیخ چلي کیسه

۷- د شیرینې او فرهاد کیسه

۸- د ګل بکاولۍ کیسه

۹- د طالب جان فلکلوریکه کیسه : دغه کیسه عوامي کتب خانې نیو کاکشال په شاهین برقي پریس پشاور په «۶۴» مخونو کې د ۱۲ × ۱۸ کڅه چاپ کړې او د کیسې د خوند ور کیدو له پاره یې ځای ځای ورکې لنډۍ، لوبې او غزلې راوړې دي .

هم دغه کیسه په لږه لویه کڅه په «۴۸» مخونو کې د عبدالخالق له خوا هم چاپ شوې ده .

۲۰- عبدالقهار طالب

د عبدالقهار طالب په هکله زموږ معلومات نیمګړي دي . نو په هدې توګه مو ونه شو کولای چې د نوموړي د پېژندګلوۍ په باب د اوس له پاره کافي مطالب راوړو . دده هغه شعر چې د « ننګیالی » میاشتنۍ مجلې په پښتون لمبر فوق العاده ګڼې د ۱۴۹ - ۱۵۰ مخونو کې چاپ شوی دی دلته رانقلوو ؛ د دغې مجلې د چاپ کال ښه روښانه نه دی لیکن شوی خو دویم جلد شپاړسمه ګڼه ده .

بې واره چیغې

د فتنې شوره کربلا ته ورکړه

لاس د وفا دې بیا اشنا ته ورکړه

موسیٰ ته څه ګوي عصا د لارې
دغه عصا دې نابینا ته ورکړه
تورو ته ځان سره خوشبو پته کړه
خیلي شغلې دې دې دنیا ته ورکړه
نورې د وینې مسلې نه ګورې
د میني باب دغه ګدا ته ورکړه
چیې د اوښکو کې اوس نه اوسمه
دغه حصه د چا خندا ته ورکړه
یا د دنیا نه دا خندا لرې کړه
یا لږ اش زما ژړا ته ورکړه
یا کړه د ژوند دغه نقشه بدله
یا دغه ژوند زما بلا ته ورکړه
اوس په خوښي د غم وهمونه ګوي
څه اطمینان دې وارخطا ته ورکړه
لږ د وفا په حکمت جوړې پټې د
د زخمي زړونو شاو خوا ته ورکړه
یا دې دوستۍ کې څه دلیل ورانده کړه
یا د عنقا نوم دې وفا ته ورکړه
یا خو «طالب» ته په خندا کې راشه
یا یې د تول عمر ژړا ته ورکړه

۲۱- طالب یوسفزی

طالب یوسفزی مونږ د یو غزل له مخې چې د پېښور یونیورسټي د پښتو اکاډیمۍ په پښتو مجله کې راغلي دي پېژنو (۱) داسي ښکاري چې اصل نوم یې طالب او یوسفزی تخلص وي .

د ده د ځای او پېژندنې په هکله مونږ پوره معلومات نه دي ترلاسه کړي، خو یوسفزي زیاتره په مردان، چارسده او سوات شاوخوا کې استوګن دي .

---

(۱) پښتو مجله - طالب یوسفزی ۱۹۷۶ع - د مارچ ګڼه (۳۷) مخ .

غزل

مړاوي دې کاته د وفا څښنه ده
کوږې د تندي د خندا څښنه ذه

ستا دغه ژړا د خندا څښنه ده
زما دغه خندا د ژړا څښنه ده

ستا د هجر شې ته هم خندېږمه
دغه د راتلونکي سبا څښنه ده

څښکه د مځکې وينې پوهېږمه
دا دې د وصال د سبا څښنه ده

څه به د اشنا په هيجر تنګ شي ؟
هېره يو فنا د بقا څښنه ده

نه د تا د مينې خانقاه کې يم
دلته کې تياره د رڼا څښنه ده

ښکلو ستاسو څښنې د طالب پر سر
ستاسو دغه ټوله دنيا څښنه ده

۲۲ـ صاحب جان تورطالب

د نوموړي اصلي نوم صاحب جان دی او مشهور په تورطالب دی (۱) د پلار نوم يې غلام نبي او په ۱۹۳۷ ع کال کې زېږېدلی دی .

يوازې ديني زده کړه يې کړې ده او د تصوف سره هم علاقه لري ، نن ـ سبا په سراى نورنګ کې کاروبار کوي . په ځوانۍ کې يې مجلسي شاعري کوله ، نوموړی يو اولسي شاعر دی او د مروتو د ادبي جرګې اعلى سرپرست دی .

---

(۱) ادبي ګلونه اول ټوک ـ قاسم بنوي (۹۱ ـ ۹۲) مخونه .

د کلام نمونه دا ده :

په ربښتیا وکړه اقرار د محبت بیا
چې پوه شو هغه رقیب په شرارت بیا

شایسته جانانه یو وارې مې یار شه
پروا نه لرم د چا په عداوت بیا

زما زړه مینه په تا پیغل چا نه ده
یو ځل راشه سره وکړو مصلحت بیا

چې مین دې کړم وفا راسره نه کړې
کړم درخواست به په ربښتوني عدالت بیا

طالب جانه په سرو ستر کو یارته ژړه
که رضا شه بیا به وکړې شفاعت بیا (۱)

(۱) په دې مجموعه کې بل نور طالب هم راغلی، خو هغه نور طالب د باجوړ د شاوخوا سیمې اوسیدونکی دی او دا نور طالب د لکي مروت بنو اوسیدونکی او په سرای نورنګ کې کاروبار کوي .

۲۳ـ طالب رحیمی

طالب رحیمي د ۱۳۵۷ ش کال پورې د کندهار د مجلې مدیر و، هغه وخت ما ورته د سوانح په برخه کې لیک استولی و، خو بیا زه چېرته ؟ او دی چېرته ؟

نوموړی لیکوال او شاعر دی، خو زه بتر اوسه پورې نه یم موفق شوی چې د لته د هغه د لیکوالۍ او شعر نمونه وړاندې کړم .

۲۴- طالب محمداکبر

محمداکبر طالب د ملاقطب زوی د ۱۲۹۶ څخه تر ۱۳۵۰ ش کال پورې یو مشهور اولسي شاعر و.

د نوموړي لنډه پېژندنه موږ د «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» څخه رانقل کړې ده. د «فرهنګ زبان و ادبیات پښتو» مؤلف یې د شعر د نمونې څخه یواځې د کسر بند راوړی دی؛ او موږ هغه د لته کټ مټ رانقل کړو.

د شعر نمونه :

طالب محمداکبره، غزل و باسه غوره
شاګرد دې کړه خبره، چې روان د دې د نیا وی
دا سپین څادر یې ستا وی (۱)

---

(۱) فرهنګ زبان و ادبیات پښتو - زلمی هیوادمل (۲۳۱) مخ.

۲۵- ملا قادر طالب

ملا قادر طالب د ننگرهار ولایت د ګوشتې او سیلوټکي د ی
پلار یې حکیم اخونزاده نومېږي ، اصل ټیکونه یې د کوټ څخه ګوشتې
ته راغلي وو . ملا قادر طالب د خپل نوم سره د ملا او طالب دواړه
نومونه یو ځای راوړي .

ګوری د یو شعر په اخر کې یې خپل تخلص داسې راوړی دی:

زه یم طالب ملا قادر دا مې ګفتار

پیر مې کامل ناپوه شاعر به کړم حصار

ماچې لاس ایښی دی دیار په زلفو چنګو

دا نه لاچې لونګ وا ګونګرو دې کاوه شور (۱)

---

(۱) فرهنګ زبان وادبیات پښتو - زلمی هیوادمل (۳۱۸) مخ .

د پورتني شعر څخه معلومیږي چې ملا قادر طالب په پښتو ژبه کې یو خوب ژبی شاعر دی خو متأسفانه چې د شعري مجموعې یې تر اوسه پورې پته نه لګي .

۲۶- طالبجان

طالبجان د یوې بګټې له مخې چې په پښتنې سندرې دوهمه برخه کې راغلې ده پېژنو.

ولې دا په یقیني توګه نه شو ویلای چې اصل نوم یې څه دی او د کوم ځای او سیدونکی دی. ځکه چې په دې مجموعه کې ځینې داسې طالبان هم شته چې طالب یا طالبجان یې نوم وي، لکه کندهاری- طالب، د شینوارو د میدانک طالبجان یا د ننګرهار ولایت د چپرهار د سنګنې طالب او ځینو بیا په خپلو اشعارو کې د قافیې د سمون دپاره د طالب جان نوم راوړی وي لکه قسیم الله طالب، ملارستم طالب او صاحبجان طالب.

موږ پورتنی یادونه په دې خاطر وکړه چې تر اوسه پورې دا معلومات نه لرو چې دغه شاعر جلا دی او که د پورتنیو شاعرانو

د ولې ښځه کوم یو دی .

د شعر نمونه یې دا ده :

راولېږه د لال که غواړې مې وصال وهلی مې شین خال
وهلی مې شین خال تالا به یې د ر کمه قلنګ لرم لباني رنګ

د بګتي په اخر کې خپل نوم داسې راوړي :

غزل د طالب جان د سترګو په ګریان دپاره د جانان
دپاره جانان مې وویل په دغه رنګ لرم لباني رنګ (۱)

---

(۱) پښتني سندرې، دوهمه برخه، ساپي محمد حسن (پښتو ټولنه ۱۳۳۵ ش کال) ۱۸۷ — ۱۸۸ مخونه .

۲۷ـ دلاور طالب عمرخېل

دلاور طالب د پښتو ژبې یو پیاوړی حماسه ویونکی شاعر دی چې د دیارلسمې پېړۍ په اواخرو کې یې ژوند کاوه. (۱)

نوموړی په قام غلجي عمرخېل دی، غور نیکه یې د میدان د سرخ اوسیدونکی و، کورنۍ یې په کډه کابل ته راغلې وه چې دی هلته زېږېدلی او لوی شوی دی، ده هلته د غازي مغل خان میرزایي کوله چې د خپل ځان پېژندنه دیوې منظومې په ترڅ کې په دې توګه کوي:

په میرزا د مغل خان مې دی تشهیر
نوم مې دی دلاور خان په ځان زهیر

---

(۱) حبیب الله رفیع ـ ادبي ستوري دوهیم ټوک (۱۹۶ ـ ۲۰۵) مخونه.

په نسب يه غلجي عمرخېل ګوره
خصوصاً علي زايي ولوره اى ورورهٔ!

اعلى جد مې و د نرخ ماوا حنيف
شيخ صاحب کلى لرم اوس ځاى شريف

شيخ مصري باندې تشهير لري دلبره!
دى پېشوا د ټامي اولياء غوره

شيخ صاحب ته شيخ مصري له دې سببه
وايي خلق، ده مصري نشوره عجبه

تل ښکاره يې کرامات دي په عالم کې
د ښمنان يې د نومو دي په ماتم کې

بل هرڅوک چې غرض دار ورلوه ورشي
په مراد باندې فى الحاله بهرورشي

بې مراده هيڅوک نه راځي اى جانه!
له دې پيره دا خبره ده عيانه

هم اولاد د دغه پير دى خوب خصاله
له اخلاق حميده سېي مالامالـه

په کامه کې يې ثاني نه شته يارانو!
نېکخويي په نېک خصلت کې سامعانو

بلکې يو ملک يې نه شته دى مثال
دى بې حده خوب اقواله - خوش افعال

دلاور طالب د پښتو ژبې په حماسه او قصه ويونکو شاعرانو کې راځي .

د ده دوه نيمګړي آثار راپاتې دي چې يو يې د مغل خان «جنګنامه» او بل يې « بهاردانش » نوميږي .

غازي مغل خان يو ملي مبارز پښتون تېر شوی او د انګريزانو سره يې د پښتنو په دوهم جنګ کې ډېره ميړانه ښکاره کړې ده . څرنګه چې دلاور طالب د دې غازي ميرزا و او د جنګ په ټولو محاذونو کې ورسره ملګری و ، نو د جنګ ټوله واقعات يې په سترګو ليدلي او بيا يې د يوې جنګنامې په بڼه اړولي دي .

د جنګنامې ترلاسه شوې نسخه د پيل له خوا بشپړه ده خو د پای له خوا د ليکلو څخه پاتې ده او هم يې د منځ څو پاڼې ولېدلي دي . د ترلاسه شوې جنګنامې د بيتونو شمېر زرو ته رسيږي خو د جنګنامې د عنوانونو فهرست ښيي چې د جنګنامې يوه برخه د ليکلو څخه پاتې وې .

د جنګنامې د سر بيتونه دا دي :

په نامه د هغه خدای يې دا بيان دی
چې يې نوم يې په نومونو کې سبحان دی

هم صانع دی د جمله وو مصنوعاتو
هم رازق دی د همه وو مرزوقاتو

بل اثر يې د « بهاردانش » په نوم پاتې دی او وايي چې د عنايت الله

له «بهار دانش» څخه مې په پښتو کړی دی . په دې اثر کې د ښځو مکرونه راغلي او متن يې د «چهار درويش» له مشهور اثر سره ورته دی چې په پښتو کې ملا نعمت الله نظم کړی او مولوي عبدالرحمن په نثر ژباړلی دی . د دغې اثر د سر برخه شته او د پای برخه يې نه ده کښل شوې . همدا راز ... منظومې متفرق اشعار هم لري چې يوه منظومه يې د ځان د پېژندګلو په باب موږ مخکې راوړه .

د ميرزا دلاور طالب ټول اثار په يوه مجموعه کې راغلي او په نسخه کې د لاس وهنو ، سمونو او زياتونو څخه داسې ښکاري چې نسخه په خپله د دلاور طالب په ليک وي .

د ده آثار د تاليف کال ياکومه بله سنه نه لري خو د مجموعې په پښتي کې د مؤلف په خط د يوې طلاقنامې مسوده کښل شوې چې سنه يې ۱۲۹۸ هـ ق ده ، نو کيدای شي چې د ده د آثارو مجموعه په هغې کال قلمي شوې وي .

اوس به موږ د مغل خان د جنګنامې د فصل يوه برخه چې د انګريزانو سره يې د بريالی غزا يوه صحنه پکې تمثيل کړې ده ، دلته رانقل کړو :

د سر بيتونه :

روايت کـه په داشان راويان د دين
چې لښکر د اسلام کل په دين کې سپين

راحاضر په نغاره شو د نواب
نواب د پسر ګاوه په دوی باندې شتاب
ګرځیده به په تمام لښکر کې جانه
شاباسی به یې وایه له هر شانه

د پای بیتونه :

چې اوازیې د نصرت په جهان خور شه
خوشالي شوه ، خورسندي په هر کور شه
مدعا چې وخپل کورته رسیدنه
له حد زیات بې حدې وکړه خیراتونه
په ګلشن د شجاعت کې کړه ګل
ای طالبه د زاغانو یې ساته تل
خدای دې رفع کړي رغرف له دې بوهتانه
چې پرې تل بلبلان کړي ګرځي خرامانه

۲۸- د ټنګ ټکور طالبان

(څلور بېل بېل شاعران)

د پورتني عنوان لاندې ښاغلي دردمند د ۱۳۵۰ ش کال د کابل مجلې په اتمه ګڼه کې د نورو شاعرانو په لړ کې د دري تنو سندرغاړو طالبانو چې عبارت دي د محمد طالب، اخوي میا طالب او مست طالب څخه په خپله مقاله کې ذکر راوړی دی. خو د اشعارو د نمونو په هکله یې څه نه دي لیکل شوي.

همدارنګه د دغه عنوان لاندې ښاغلي دردمند د ۱۳۵۱ هـ ش کال د کابل مجلې په نهمه ګڼه کې د یوبل طالب یوه څاربیته چې د سوال-ځواب په ډول ده (۱) راوړې ده چې د پښتو په اولسي

---

(۱) کابل مجله ۱۳۵۱ هـ ش، ۹مه ګڼه، ټنګ ټکور د ښاغلي دردمند مقاله، ۶۵-۶۷ مخونه.

ادب کې د دغه ډول چاربیتو مثالونه ډیر لیدل کیږي .

چاربیته :

ښین کمر به ګورم دغه ژاې به دې دل کړمه
اوږ به په تا بل کړمه
ما ته یې زمري خو تربور ته ودریدی نه شي
باندې ورو تې نه شي
بل به غبږ ونکړي ګوره قتل ته دې تیل یمه
زه ګوره چې شیر یمه
قرسه ونکړې او نه شیر يې، لوی ګیدړ یې ته
خوشې اخلې دړې ته
زه چې دړې اخلم، خوله دې ورانه ده، مذکور کوې
بحث د تربور کوې
مړې که پاتې کیږې خو د سرو زرو زیور غواړم
نوی سلیپر غواړم
توکی د نیلون وریسره نوی پوزېښن غواړم
زه دغه فیشن غواړم

څرنګه چې دغه چاربیته ډیره اوږده ده، یواځې
د کسر بندې یې دلته رانقلوو :

د کسر بند :

PROPERTY OF ACKU 8069
PROPERTY OF ARIC Established 1989

کونډه - کونډه مه وایه، تربوړ باندې وړومبه کړه
ما به درنه کونډه که

ته په دې ارمان یې زه پوهېږمه چې بل کوې
یو نه کوې سل کوې

شل او سل یې څه کوې طالبه دا فېشن غواړم
توکي د نیلون غواړم

یو وخت ما ته یو ملګري د لغمان په ولایت کې د یو طالب شاعر ویلي وو او موږ په دې مجموعه کې د لغمان د سیمې نه کوم شاعر نه لرو، کیدای شي چې دغه شاعر د لغمان د شاوخوا سیمې او سیدونکی وي .

(پای)

زکریا ملاتہ